# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــــاد		بدین بوم و بر زنده یک تن مــــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم		از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com		afgazad@gmail.com

| سیاسی | Political |
|---|---|

انجنیر داؤد اخک
۰۴ اکتوبر ۲۰۲۰

## که جنګ وپیژنو صلحي ته رسيږو

کله چي د کار وسایل خصوصي سول  ورو ورو ټولنيز طبقات رامنځته سول، د طبقاتو د ایجاد سره سم حکومت رامنځته سو او د حکومتونو د ایجاد سره جنګونه پيل سول چي متأسفانه تر نن ورځي پوري دوام لري.

معنا دا چي د سرمايي رشد او پراختيا په ټولنو او دولتونو کي سيالی رامنځته کړې چي دغه سيالی نن ورځ داسي پړاو ته رسيدلي دي چي انسانان يو بل د کمزوره کولو يا د ډير څه لاس ته راوړلو لپاره د هر ډول وسيلي څخه کار اخلي. په تيره بيا د نړۍ زبر ځواکونه چي په مدرنو وسايلو سره په بيلو بيلو بهانو باندي پر کمزورو او مخ پرانکشافه هيوادو باندي حملي کوي، اشغالوي ئې، بنستونه ئې ورانوي او د خپلو عظمت پلو ستراتيژيو د تطبق لپاره ئې د سونګ د موادو په څير په کار اچوي.

په نړۍ کي ډيري شخړي پيښي سويدي خو د خط د ايجاد څخه تر ۲۰۲۰ ميلادي کال پوري ۱۴۵۰۰ جنګه د تاريخ په حافظه کي ثبت سويدي چي په مليارډو انسانان ئې وژلي او بې شماره ورانی ئې رسولي دي. د جنګ په هکله نظريات ويشل سويدي. يوه ډله پوهان وايي چي جنګ عام مفهوم دی او د انساني ښکارهنګ (فرهنګ) نه جلا کيدونکي برخه ده. خو بله ډله بيا باور لري چي جنګ د ټولني په ځانګړو ټولنيزو او ښکارهنګي (فرهنګي) شرايطو پوري اړه لري.

### جنګ پيژندنه

جنګ په لغوي لحاظ د هندواروپائي ژبو کليمه پيژندل سويده او د پارتي يا پارثي ژبي ګينګ، ګهينګ Ghengh څخه ريښه اخلي چي د حرکت او پر مختګ په معنا دی. انګليسي Gang (ګنګ) د لرغوني الماني ژبي Gang (ګنګ) څخه اخيستل سويدی چي د تګ، سفر، ډله ايز حرکت، مخته ورل... په معنا دی. په هالندي ژبه کي Gang (خنګ) هم د حرکت، تيز حرکت، تګ، د تګ طريقه، د تګ دهليز... په معنا دی. خو په اصطلاح کي فيلسوفانو او نظاميانو باندارونه پر کړيدي او بيل بيل ئې تعريف کړيدی.

هيروکليت يونانی چي د سقراط مخکي ئې ژوند کاوه وايي چي:(جنګ يو طبيعي امر دی او د ښکارهنګ «فرهنګ» نه بيليدونکي برخه ده. خو مبارزه عدالت دی).

د انګلستان د سلطنتي نظامي اکاډمي استاذ جان کيګان ( ۱۹۳۴- ۲۰۱۲ م) جنګ داسي تعريفوي:

(جنګ نړیوال مفهوم دی چي دول او پراختیا ئي د هغه ټولنو او حکومتونو لخوا ټاکل کیږي چي مصارف ئي ورکوي).

کارل فون پروسي ۱۷۸۰ – ۱۸۳۱میلادي پوري (د جنګ په هکله) تر عنوان لاندي پخپل کتاب کي لیکي چي:

(جنګ د زور پر بنسټ یو عمل دی څو وکولای سو چي په دښمن باندي خپلي غوښتني ومنو. فون زیاتوي چي جنګ نباید مستقیل او متغیر مفهوم فکر کړو بلکه د یوې سیاسي وسیلي په حیث ئي باید مطالعه کړو).

ټولنپوهنه بیا د نفوذ زیاتوالی د نعمتونو او شغل کموالی د جنګ لامل بولي.

خو مارکسیزم پدې عقیده دی چي طبقاتي ټولني، طبقاتي ګټي او ازاد بازار د جنګ لامل دی.

## زما اڅک فلسفه د جنګ په هکله:

زه په بخښني سره د پورته تعریفونو او لاملونو سره همږغی نه یم او پدې اند یم چي جنګ په تیره بیا اوسنی مډرن جنګ نه د انساني ښکارهنګ (کلتور) برخه ده، نه عام نړیوال مفهوم دی، نه هم نن ورځ په اوسني مډرن جنګ باندي خپلي ناروا غوښتني پر نورو اولسونو باندي تحمیل کولای سو او نه ئي د ازاد بازار محصول بولم.

زما په اند جنګ د انساني غرور، ځان غوښتني او تکبر محصول دی. یعني کله چي یو مملکت یا یو واکمن هر څه یا ډیر څه د ځان لپاره غواړي نو طبیعي ده چي د نورو خلګو یا ملکونو حقوق به تر پښو لاندي کوي او پر حقه حریم به ئي تجاوز کوي. دغه تجاوز پخپل ذات کي بدرنګه او خبثن عمل دی چي نوم ئي جنګ دی. یعني اوسنئ مډرن جنګ یو لغوړن او خبثن عمل دی چي بیله وراني، بربادي، انسان وژني او ویني تویوني څخه بل محصول نلري.

که څه هم چي زبرځواکونو د دوهم نړیوال جنګ ورسته نیابتي جنګو ته مخه کړیده غریب، بیچاره او ناپوهه اولسونه پخپله نمایندګي سره جنګوي خو که دغه حالت دوام پیدا کړي بیله شکه به ددغه نیابتي زما په اند سوړ جنګ بځرکي د جنګره ملکونو لمنو ته هم ورسیږي او بالاخره به په داسي ګرم جنګ سره واوړي چي د لومړي یا دوهم عمومي جنګ په شان نه بلکه د ستورو جنګ به وي چي د مځکي کُره به تهدید کړي.

اوس که نړیوال زبرځواکونه **حقوق بشر** ته احترام لري نو باید د غرور او تکبر د آس څخه راکښته سي او د نړۍ ټولو مظلومو خلګو ته د خپلو خلګو په شان د انسان په صفت قائله سي او د خپلو نازولو په شان د ژوند کولو او خپل سرنویشت ټاکلو حق ورکړي، جنګونه ختم کړي او د اتومي اسلحو پر ځای داسي بشري نعمتونه او تکنالوجي تولید کړي چي د انسانانو د خوښی، او ارامی سبب سي نه د ورانی او بربادی.

په **پایله** کي به دا منوو چي د پروني (د تمدن مخکي) جنګ او اوسني مډرن جنګ توپیر دادی چي په ابتدائي (د تمدن مخکي) جنګو کي به موقت او نسبي ګټونکی معلوم سو خو اوسني مډرنو او اتومي جنګونو دا وښودل چي اوسنئ جنګ اصلاً ګټونکی نلري. نو زما په اند جنګره ملکونه چي د جنګ وسایل او نړیوال بازار ئي په اختیار کي دی باید دغه ټکي ته په پوره جدیت او عقلانیت سره متوجه سي چي:

جنګ نور د حل لاره نده، د امتیازاتو او نعمتونو د لاسته راوړلو وسیله نده او په پوره جرأت باید ومني چي اوسنئ جنګ نه د افغانستان په ګټه دی نه د جهان. لهذا د دې وخت رارسیدلی دی چي په پوره صداقت سره یو د بل حقوقو ته احترام وکړو او د زور ښنډني څخه لاس واخلو څو د صلحي په فضا کي د ورونو په شان ژوند وکړو.

په درنښت- ۲- ۱۰ ۲۰۲۰-

## سر چینې:

- هالنډي په الماني ژبه قاموس./ - هالنډي په فارسي ژبه قاموس./ - د جنګ او War انکلو پیډیا.